د شیخِ طریقت امیرِ اَہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي حضرتِ علامه، مولانا، ابوبلال


محمد الیاس عطّار قادري رضوي

دامت برکاتہم العالیه


د تالیف "نماز کے احکام" نه ماخوذ

# د نمونځ فیضان








المدینة العلمیة

(دعوتِ اسلامی)

شعبه تخریج

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

## دکتا ب لوستلو دُعا

ديني کتاب يا اسلامی سبق لوستلو نه مخکښ دا لا ندې دعا اولولئ اِنْ شَآءَ اللہ عَزَّوَجَلَّ کوم څه چه لولئ نو هغه به مو ياد پاتې کيږي:

**اَللّٰھُمَّ افْتَحْ عَلَیْنَا حِکْمَتَکَ وَانْشُرْ عَلَیْنَا رَحْمَتَکَ یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِکْرَام**

ترجمه: اے اللہ عَزَّوَجَلَّ په مونږ دَ علم او دَحکمت دروازې پرانيزې او په مونږ خپل رحمت رانازل کړې! اے عظمت او بزرګئ والا! (مستطرف ج 1 ص40 دار الفکر بيروت)

(اول او آخر کښ يو يو ځل دُرود شريف اولولئ)


د رسالې نوم: د مونځ فيضان

اول ځل: تعداد:

ناشِر: مکتبةُ المدينه، عالمي مدني مرکز فيضانِ مدينه، بابُ المدينه کراچئ.



مدني عرض: بل چا ته د دې رسالې د چهاپ کولو اجازت نشته


### مجلس تراجم

مونږ د اميرِ اهلِسُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُھُمُ الْعَالِیَہ د دې رسالې په آسانه پښتو ژبه کښ د ترجمه کولو کوشش کړې دې. که چرې په دې کښ څه غلطي يا کمې زياتې اومومئ نو عرض دې چه مجلس تراجم ته خبر اوکړئ او د ثواب حقدار جوړ شئ.


www.dawateislami.net

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د مونځ فيضان[1]

## د دُرود شريف فضيلت

سرکارِ مدينه، سلطانِ باقرِينه، قرارِقلب و سينه، فيضِ گنجينه صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مونځ نه پس د حمد و ثنا او درود شريف لوستونکي ته اوفرمائيل: ”دُعا اوغواړه! قبوله به کړې شي، سوال اوکړه! دربه کړې شي.“ (سُنن النّسائی، ص220 ، حديث1281)

## ايمانِ مُفصَّل

| |
|---|
| اٰمَنْتُ بِاللّٰهِ وَ مَلٰٓئِکَتِهٖ وَ کُتُبِهٖ وَ رُسُلِهٖ وَ الْيَوْمِ الْاٰخِرِ |
| ما ايمان راوړو په الله باندې او د هغه په فرِښتو باندې او د هغه په کتابونو باندې او د هغه په رسولانو باندې او د قيامت په ورځ باندې |

[1] دا رساله د شيخِ طريقت، اميرِاهلِسنّت، حضرت علاّمه مولانا ابو بلال محمّد الياس عطّار قادِری رَضَوی دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه د تاليف ”نماز کے احکام“ نه ماخوذ ده. د نورو تفصيلاتو د پاره ”نماز کے احکام“ اولولئ. محرم الحرام 1433 ھ، مطابق 2011 ء . . . عِلميه



www.dawateislami.net

وَالۡقَدۡرِ خَيۡرِهٖ وَشَرِّهٖ مِنَ اللّٰهِ تَعَالٰى

او په دې باندې چه ښه او بد تقدير د الله د طرف نه دې،

وَالۡبَعۡثِ بَعۡدَ الۡمَوۡتِ

او د مرګ نه پس په راژوندي کولو باندې.

## ايمانِ مُجمَل

اٰمَنۡتُ بِاللّٰهِ كَمَا هُوَ بِاَسۡمَآئِهٖ وَصِفَاتِهٖ وَقَبِلۡتُ

ما ايمان راوړو په الله باندې څنګه چه هغه د خپلو نومونو او د صِفَتونو سره دې، او ما قبول کړل

جَمِيۡعَ اَحۡكَامِهٖ اِقۡرَارٌۢ بِاللِّسَانِ وَتَصۡدِيۡقٌۢ بِالۡقَلۡبِ

د هغه ټول احکام د ژبې په اِقرارسره او د زړه په تصد يق سره .



www.dawateislami.net

# شش کَلِمې [يعني شپږ کَلِمې]

## اوّله کَلِمه طَيّبه

| |
|---|
| لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ |
| د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله (عَزَّوَجَلَّ) رسول دې. |

## دويمه کَلِمه شهادت

| |
|---|
| اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ |
| زه ګواهي کووم چه بيشکه د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته هغه يو دې د هغه هيڅ څوك شريک نشته |

| |
|---|
| وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ؕ |
| او زه ګواهي کووم چه بيشکه مُحمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله بنده او د هغه رسول دې. |



www.dawateislami.net

## دریمه کَلِمه تمجِید

| |
|---|
| سُبۡحَانَ اللّٰهِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاللّٰهُ اَکۡبَرُ |
| الله پاک دي او ټول صِفتونه د الله د پاره دي او د الله نه سِوا هيڅ څوک د عبادت لائِق نشته او الله د ټولو نه لوئ دي |
| وَلَاحَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ الۡعَلِیِّ الۡعَظِیۡمِ |
| او د ګناهونو نه د بچ کيدلو طاقت او د نيکئ کولو توفيق هم د الله د طرف نه دي هغه د ټولو نه اوچت، او عَظَمت والا دي. |

## څلورمه کَلِمه توحِید

| |
|---|
| لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِيۡكَ لَهٗ لَهُ الۡمُلۡكُ وَلَهُ الۡحَمۡدُ |
| د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته، هغه يو دي، د هغه هيڅ څوك شريک نشته، هُم هغه لره ده بادشاهي او هغه لره دي ټول صِفات، |



www.dawateislami.net

يُحۡيٖ وَيُمِيۡتُ وَهُوَ حَيٌّ لَّا يَمُوۡتُ اَبَدًا اَبَدًا ؕ ذُوالۡجَلَالِ

هُم هغه کوي ژوندي کول او مړه کول او هغه ژوندې دې هغه ته به هيڅ کله هم مرګ نه راځي، د ډير جلال

وَالۡاِكۡرَامِ ؕ بِيَدِهِ الۡخَيۡرُ ؕ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيۡءٍ قَدِيۡرٌ

او بُزرګۍ والا دې د هغه په لاس کښې خير دې هغه په هرڅه قادِر دې.

## پينځمه کَلِمه اِستِغفَار

اَسۡتَغۡفِرُ اللّٰهَ رَبِّيۡ مِنۡ كُلِّ ذَنۡبٍ اَذۡنَبۡتُهٗ عَمَدًا اَوۡ خَطَأً

زه د الله نه مُعافي غواړم چه هغه زما پروردِګار دې [توبه کووم] د هرې ګناه نه چه کومې ما قصداً کړي دي يا په هيره سره،

سِرًّا اَوۡ عَلَانِيَةً وَّاَتُوۡبُ اِلَيۡهِ مِنَ الذَّنۡبِ الَّذِيۡ اَعۡلَمُ

په پټه مې کړې دي يا په ښکاره او زه د هغه په بارګاه کښې توبه کووم د هغه ګناه نه کومه چه ما ته معلومه ده



www.dawateislami.net

| |
|---|
| وَمِنَ الذَّنْبِ الَّذِیۡ لَاۤ اَعۡلَمُ اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ |
| او د هغه ګناه نه کومه چه ماته نه ده معلومه، (اے اللّٰه) بيشکه ته په غيبو خبردار ئې |
| وَسَتَّارُ الْعُيُوْبِ وَغَفَّارُ الذُّنُوْبِ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ |
| او عيبونه پټونکې او د ګناهونو بخښونکې ئې. او د ګناهونو نه د بچ کيدلو طاقت او د نيکۍ کولو توفيق |
| اِلَّا بِاللّٰهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ ؕ |
| صرف د اللّٰه د طرف نه دې هغه د ټولو نه اوچت، او عَظَمت والا دې. |

## شپږمه کَلِمه ردِّ کُفر

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اِنِّیۡۤ اَعُوْذُبِكَ مِنْ اَنْ اُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا وَّ اَنَا اَعْلَمُ بِهٖ |
| اے اللّٰه زه ستا پناه غواړم د دې خبرې نه چه زه څه شي لره ستا شريک اوګرځووم قصداً [يعني د پوهيدو باوجود]، |



www.dawateislami.net

وَ اَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَآ اَعْلَمُ بِهٖ تُبْتُ عَنْهُ وَتَبَرَّأْتُ مِنَ

اوبخښنه غواړم ستا نه د هغه (شِرک) کوم چه ما ته نه دې معلوم او ما د هغې نه توبه اوکړه او زه بیزاره شوم د

اَلْكُفْرِ وَالشِّرْكِ وَالْكِذْبِ وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ

کُفر نه او د شِرک نه او د دروغ وئیلو نه او د غِیبت نه او د بِدعت نه

وَالنَّمِيْمَةِ وَالْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِىْ كُلِّهَا

او د چغلئ نه او د بې حیائې نه او د بُهتان نه او د ټولو ګُناهونو نه

وَاَسْلَمْتُ وَاَقُوْلُ لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ ط

او ما [په] اسلام [ایمان] راوړو او زه وایم د الله نه سِوا هیڅ څوک د عِباد ت لائِق نشته او محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله رسول دې.



www.dawateislami.net

# د اودس طريقه

كعبةُ الله شريف طرف ته مخ كول، په اوچت ځائ باندې ناسته مستحب ده. د اودس د پاره نيّت كول سنّت دي، ِنيّت د زړه اِرادې ته وائي، په زړه كښې چه نيّت وي نو په ژبه سره وئېل هم افضل دي په دې وجه په ژبه سره داسې نيّت اوكړئ چه زه د حُكمِ اِلٰهي عَزَّوَجَلَّ پوره كولو او د پاكئ حاصلولو د پاره اودس كوم. بِسْمِ اللهِ اولولئ دا هم سنّت دي. بلكه بِسْمِ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰه اولولئ ترڅو پورې مو چه اودس وي فرِښتې به مسلسل نيكئ ليكي. اوس دواړه لاسونه درې درې ځله د ګِيټو [مړوندونو] پورې او وينځئ، (نل بند كړئ او) د دواړو لاسونو د ګوتو خِلال هم اوكړئ، كم نه كم درې درې ځله لاندې باندې د غاښونو په ښي طرف او ګڅ طرف كښې مِسواك اوكړئ او هره پيره مِسواك اووينځئ.



www.dawateislami.net

اوس د ښي لاس په درې چونګه اوبو (هره پيره نل بندوئ) په داسې طريقه درې ځله ځُله اووينځئ چه هره پيره د خُلې په هره پرزه باندې اوبه اوبهيږي که روژه مو نه وي نو غرغره هم اوکړئ. بيا په ښي لاس باندې درې چونګه [اوبو] سره (اوس هره پيره نيم چونګ هم کافي دې) (هره پيره نل بندوئ) درې ځله د پوزې نرمې غوښې پورې اوبه اوخيژوئ او که روژه مو نه وي نو د پوزې جرړې ته اوبه اوخيژوئ، بيا (نل بندکړئ او) په ګڅ لاس پوزه پاکه کړئ اوکچه ګوته د پوزې په سورو کښې اووهئ. درې ځله ټول مخ داسې اووينځئ چه د کوم ځائ نه عادتاً د ويښتو جرړې شروع کيږي د هغه ځائ نه واخله د زنې د لاندې پورې او د يو غوږ د لَو نه د بل غوږ د لَو پورې هر ځائ باندې اوبه اوبهيږي. که ګِيره مو وي او اِحرام مو نه وي تړلې نو (اول نل بند کړئ بيا) په داسې شان خِلال اوکړئ چه ګوتې د مرئ د طرف نه [په ګِيره کښې] داخلې کړئ او د مخې طرف ته ئې اوباسئ. بيا اول ښې لاس د ګوتو د سرونو نه وينځل شروع کړئ او د څنګلې



www.dawateislami.net

سره ئې درې ځله اووینځئ. هم دغسې بیا ګڅ لاس اووینځئ. دواړه لاسونه د مټ د نیمې [یعني د څنګل او د اوګې د مینځ] پورې وینځل مُستحب دي. اکثر خلق په چونګ کښې اوبه واچوي او هغه د لاس د بند نه ښکته څنګل طرف ته پرېږدي په دې طریقه اوبه د مټ او د څنګل ډډو ته د نه رسیدو یره ده. لِهٰذا چه په بیان کړې شوي طریقه باندې لاس اووینځئ نو بیا په چونګ سره اوبه د څنګل طرف ته د بهیولو ضرورت نشته بلکه (بغیر د صحیح اجازت نه داسې کول) د اوبو اسراف دې. بیا (نل بند کړئ) او د سر مسح په داسې طریقه اوکړئ چه د دواړو لاسونو غټې ګوتې او د شهادت ګوتې پرېږدئ او باقي د دواړو لاسونو د درې درې ګوتو سرونه د یو بل سره اولګوئ او د تندي د وېښتو یا پوستکي نه واخله د څټ پورې ئې داسې راښکاږئ چه تلې د سر نه جدا وي، بیا د څټ نه د تندي پورې تلې په راښکلو سره راولئ، چه په دې دوران کښې د شهادت ګوتې او غټې ګوتې



www.dawateislami.net

د سر نه بالکل اونه لګي، بيا د شهادت په ګوتو د غوږونو د دننه غاړو او په غټو ګوتو د غوږونو د باهر غاړو مسح اوکړئ او کچې ګوتې د غوږونو په سُورو کښې داخِلې کړئ. او د ګوتو په شا د څټ مسح اوکړئ، څيني خلق د مرئ او د وينځلو شوو څنګلو او متو مسح کوي دا سنّت نه دي. د سر د مسح کولو نه مخکښې د نل په ښه طريقه سره د بندولو عادت جوړ کړئ. د ضرورت نه بغير نل کهولاؤ پريښودل يا نيم بندول چه اوبه ترې څڅيږي دا ګناه ده. بيا مخکښې ښئ ښپه بيا ګڅه ښپه هره پيره د ګوتو نه وينځل شروع کوئ او د ګيټو (پړکو) نه پاس ځائ پورې بلکه مُستحب دي چه د نيمې پنډۍ پورې ئې درې ځله اووينځئ. د دواړو ښپو د ګوتو خِلال کول سُنّت دي (د خِلال په وخت کښې نل بند ساتئ) د دې مُستحب طريقه دا ده چه د ګڅ لاس په کچئ ګوته د ښئ ښپې د کچې ګوتې نه خِلال شروع کړئ او په غټه ګوته ئې ختم کړئ او هم دغه د ګڅ لاس په کچئ ګوته د ګڅې ښپې د غټې ګوتې نه ئې شروع کړئ او په



www.dawateislami.net

کچه ګوته ئې ختم کړئ. (عامه کُتُب) د اودس نه پس دا دُعا هم اولولئ. (مخکښ وروستودرود شريف)

**اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِیْ مِنَ التَّوَّابِیْنَ وَاجْعَلْنِیْ مِنَ الْمُتَطَهِّرِیْنَ**

اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ! ما په کثرت سره توبه کونکو کښ شامِل کړې او ما په پاکيزه اوسيدونکو کښ شامِل کړې۔ (جامع تِرمِذي ج1، ص121، حديث 55)

د اودس کولو نه پس کَلِمهٔ شها د ت او سورةُ القدر اولولئ ځکه چه په حديثونو کښ د دې فضائِل ذکر کړې شوي دي.

## د لفظ "اللّٰه" د څلورو حروفو په نِسبت سره د اودس څلور فرض

(1) مخ وينځل (2) د څنګلو سره دواړه لاسونه وينځل (3) د څلورمه حِصّه سر مسح کول (4) د ګِيټو (پړکو) سره دواړه ښپې وينځل. (الفَتاوى الهندية، ج1، ص3)



www.dawateislami.net

# د غُسل طريقه

د ژبې د خوزولو نه بغير په زړه کښې داسې نيّت اوکړئ چه زه د پاکئ حاصلولو د پاره غسل کووم. مخکښې دواړه لاسونه د مړوندونو پورې درې ځله اووينځئ، بيا د استِنجیٰ ځائ اووينځئ که نجاست وي او که نه وي، بيا په وجود باندې که چرې نَجاست وي نو هغه لرې کړئ بيا د مونځ په شان اودس اوکړئ خو ښپې مه وينځئ، او که په چوکئ (کټکي) وغيره باندې غسل کوئ نو بيا ښپې هم اووينځئ، بيا په بدن باندې د تيلو په شان اوبه اومږئ، (په دې دوران کښې صابُن هم لګولې شئ) بيا درې ځله په ښئ اوګه باندې اوبه اوبهيوئ، بيا درې ځله په ګڅه اوګه باندې، بيا په سر باندې او په ټول بدن باندې درې ځله، بيا د غسل د ځائ نه جُدا شئ، که د اودس په وخت کې مو ښپې نه وې وينځلې نو اوس ئې اووينځئ،



www.dawateislami.net

په لمبلو کښې قبلې ته مه مخ کوئ، په لمبلو کښې په ټول بدن باندې لاس راښکاږئ او مږئ ئې، په داسې ځائ کښې لامبئ چه څوک مو نه ويني او که دا نه شي کيدې نو نارينه دِ خپل ستر (د نامه نه واخله د دواړو زنګونانو سره) په څه پيړه کپړه باندې پټ کړي، که پيړه کپړه نه وي نو د ضرورت مطابق دِ دوه يا درې کپړې د ځان نه راتاو کړي ځکه چه که نرئ کپړه وي نو د لمديدو سره به په بدن پورې اونخښلي او مَعَاذَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ زنګونان يا ورنونه به ښکښې ځليږي. ښځو ته خو نور هم د ډير احتياط ضرورت دې. د غسل په دوران کښې هيڅ قِسم خبرې مه کوئ، څه دُعا هم مه لولئ، د لمبلو نه پس په توليه وغيره باندې بدن اوچولو کښې څه باك نشته، د لمبلو نه پس فوراً کپړې واغوندئ. که مکروه وخت نه وي نو دوه رکعته ادا کول مُستحب دي. (عامۀ کُتُب)



www.dawateislami.net

## د غُسل فرائِض

(1) خُله وينځل (2) په پوزه کښې اوبه خيژول (3) په ټول ظاهري بدن باندې اوبه بهيول. (الفَتاوى الهِندِيه، ج 1، ص13)

## د تَيَمُّم طريقه

د "تَيَمُّم" نيّت اوکړئ (نيّت د زړه د اِرادې نوم دې، چه په ژبه ئې هم اووائې نو بهتره د ه. مثلاً داسې اووائې: د بې اودسئ يا د بې غُسلئ يا د دواړو نه پاکي حاصلولو او د مونځ جائِز کيدو د پاره تَيَمُّم کووم) "بِسۡمِ الله" اولولئ بيا د دواړو لاسونوګوتې خوَرې کړئ او په څه داسې څيز باندې ئې اووهئ چه هغه د زمکې د قِسمه (مثلاً کانړې، چونا، خښته، ديوال، خاوره وغيره) وي او مخکښې وروستو ئې اوخوزوئ که زيات ګرد ورپورې اونخښلي نو او ئې څنډئ او په هغې په داسې طريقه د ټول مخ



www.dawateislami.net

مسح اوکړئ چه هيڅ حصّه هم پاتې نه شي که د ويښته همره ځائ هم پاتې شو نو تَيَمُّم به نه کيږي. بيا په دويم ځل هم دغه شان لاسونه په زمکه اووهئ اود دواړو لاسونو د نوکانو نه واخله د ښنګلو سره مسح اوکړئ، د دي غوره طريقه داده چه د ګڅ لاس د غټې ګوتې نه علاوه د څلور واړو ګوتو ختيځې [يعنې د ننه طرف ته نرمې حِصّې] د ښي لاس په شا باندې کيږدئ او د ګوتو د سرونو نه ئې د ښنګل پورې [په راښکلو] اورسوئ او بيا د هغه طرف نه هُم د ګڅ لاس تلي د ښي لاس په ختيځه په راښکلو سره د کيتۍ پوري راولئ او د ګڅ لاس د غټې ګوتې په ختيځه باندې د ښي لاس د غټې ګوتې د شا مسح اوکړئ. هم په دي شان په ښي لاس د ګڅ لاس مسح اوکړئ. (فتاوٰي تاتارخانيه، ج 1، ص227) او که يو ځل په پوره تلي او ګوتو مسح اوکړې شي نو هُم "تَيَمّم" اوشو. که د ښنګلو نه ئې د ګوتو طرف ته راولي يا ئې د ګوتو نه د ښنګلو



www.dawateislami.net

طرف ته بوځي [نو هم ”تَیَمّم“ اوشو] خو د سنّت خِلاف اوشو. په تيمّم کښې د سر او د ښپو مسح نشته. (عامه کُتُب)

## د تَیَمُّم فرائِض

په تَیَمُّم کښې درې فرض د ي (1) نِيّت (2) په ټول مخ لاس راخښکل (يعني د ټول مخ مسح کول) (3) د خنګلو سره د دواړو لاسونو مسح کول. (بهارِ شريعت ج 1، حصّه 2، ص 353)

## اذان

| |
|---|
| اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط اَللّٰهُ اَکْبَرُ ط |
| الله د ټولو نه لوئ دې الله د ټولو نه لوئ دې الله د ټولو نه لوئ دې الله د ټولو نه لوئ دې |
| اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط |
| زه ګواهي ورکووم چه د الله نه سِوا هيڅ خوک د عِبادت لائِق نشته |



www.dawateislami.net

| | |
|---|---|
| اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ؕ | |
| زه ګواهي ورکووم چه د الله نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته | |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ | |
| زه ګواهي ورکووم چه حضرت محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله رسول دې | |
| اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللّٰهِ ؕ | |
| زه ګواهي ورکووم چه حضرت محمّد (صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د الله رسول دې. | |
| حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ؕ | حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ؕ |
| د مونځ کولو د پاره راشئ | د مونځ کولو د پاره راشئ |
| حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ؕ | حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ ؕ |
| د خلاصي موندلو د پاره راشئ | د خلاصي موندلو د پاره راشئ |
| اَللّٰهُ اَكْبَرُ ؕ | اَللّٰهُ اَكْبَرُ ؕ |
| الله د ټولو نه لوئ دې | الله د ټولو نه لوئ دې |



www.dawateislami.net

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ط

د اللّٰه نه سِوا هيڅ څوک د عِبادت لائِق نشته

## د اذان د جواب ورکولو طريقه

مُؤذِّن صاحِب ته پکار دي چه د اذان کَلِمات په واره واره [يعني په قلاره قلاره] سره وائي، اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ دواړه جوړه (د سکتې کولو نه بغير د يو ځائ وئيلو په اعتبارسره) يوه کَلِمه ده د دواړو نه پس دِ سَکته اوکړي (يعني چپ دِ شي) او د سَکتې وخت دومره دې چه د جواب ورکونکې جواب ورکړي، د سکتې پرينبودل مکروه دي او د داسې اذان دوباره کول مُستحب دي. (الدرالمُختار و ردُّ المُحتار ج 2، ص 66) د جواب ورکونکي د پاره پکار دي چه کله مُؤذِّن صاحِب اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ اووائي او سکته اوکړي يعني خاموشه شي نو [جواب ورکونکې دِ] هغه وخت کښ اَللّٰهُ اَکْبَرُ اَللّٰهُ اَکْبَرُ اووائي، هم دغسې دِ د نورو کَلِمو



www.dawateislami.net

جواب ورکړي. چه کله مؤذّن اول ځل اَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوۡلُ اللّٰهِ اووائي نو دا دِ [په جواب کښې] اووائي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡكَ يَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ په تاسو دِ درود وي يا رسولَ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) (ردُّ المُحتار، ج 2، ص 84) چه کله ئې دوباره اووائي نو دا دِ اووائي قُرَّةُ عَيۡنِيۡ بِكَ يَا رَسُوۡلَ اللّٰهِ يا رسولَ اللّٰه (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ستاسو نه زما د سترګو يخ والې دې (المرجعُ السّابق) او هره پيره دِ د خپلو غټو ګوتو نوکان خپلو سترګو ته اولګوي، او آخِره کښې دِ اووائي: اَللّٰهُمَّ مَتِّعۡنِيۡ بِالسَّمۡعِ وَالۡبَصَرِ اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ زما د اوريدو او د ليدو د قوّت نه ما ته فائِده راکړې. (المرجعُ السّابق) خوک چه داسې اوکړي سرکارِ مدينه صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰی عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه په ځان پسې وروستو وروستو جنّت ته بوځي. (المرجعُ السّابق) د حَيَّ عَلَى الصَّلٰوةِ ط او حَيَّ عَلَى الۡفَلَاحِ ط په جواب کښې دِ (څلور واره ځل) "لَا حَوۡلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ" اووائي او غوره داده چه دواړه دِ اولولي (يعني مُوذّن چه څه اووئيل هغه دِ هم اووائي او



www.dawateislami.net

لَاحَوْلَ دِ هم اولولي) بلکه مذ يد دا دِ هم ورسره اولولي: مَاشَآءَ اللّٰهُ کَانَ وَمَا لَمْ يَشَأْ لَمْ يَکُنْ څه چه الله عَزَّوَجَلَّ اوغوښتل اوشو او څه چه ئې اونه غوښتل هغه او نه شو. (الدرالمُختار و ردُّ المُحتار ج 2، ص 82، الفتاوى الهندية ج 1، ص 57) د اَلصَّلٰوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْمِ په جواب کښ دِ اووائي: صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ وَبِالْحَقِّ نَطَقْتَ ته رښتيا وئيونکي او نيکوکار ئې او تا حق وئيلي دي. (الدُّرّالمُختار و ردُّ المُحتار ج 2،ص 83)

## د اذان دُعا

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ وَالصَّلٰوةِ الْقَآئِمَةِ اٰتِ |
| اے الله! د دي دعوةِ تا مّه او صلٰوةِ قائِمه مالکه، ته زمونږ |
| سَيِّدَنَا مُحَمَّدَنِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيْعَةَ |
| سردار حضرت محمّد (صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) ته وسيله او فضيلت او ډيره اوچته درجه عطا کړي |



www.dawateislami.net

| |
|---|
| وَابۡعَثۡهُ مَقَامًا مَّحۡمُوۡدَ ﹰالَّذِیۡ وَعَدۡتَّهٗ وَارۡزُقۡنَا شَفَاعَتَهٗ |
| او هغوئ په مُقامِ محمود باندې فائِز کړې چه د هغې تا د هغوئ سره وعده کړې ده او مونږ ته د هغوئ شفاعت رانصيب کړې |
| یَوۡمَ الۡقِیٰمَةِ ؕ اِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ الۡمِیۡعَادَ ؕ |
| د قيامت په ورځ، بيشکه ته د وعدې خِلاف نه کوې، |
| بِرَحۡمَتِكَ یَآ اَرۡحَمَ الرّٰحِمِیۡنَ |
| په مونږه با ندې خپل رحمت اوفرمائې اے د ټولو نه زيات رحم کولو والا. |

## د مونځ طريقه

د اودس سره مخ په قبله داسې اودريږئ چه د دواړو ښپو د پنجو په مينځ کښې د خلورو ګوتو فاصله پاتې شي او دواړه لاسونه غوږونو ته پورته کړئ داسې چه غټې ګوتې د غوږونو د لَو سره اولږي، او ګوتې چه نه د يو بل سره جوختې وي او نه ډيرې زياتې جدا جدا بلکه په خپل حالت (NORMAL) ئې پريږدئ او چه د لاس تلي قبلې ته مخامخ وي، نظر د



www.dawateislami.net

سجدې په ځائ وي. اوس چه کوم مونځ کول دي د هغې نيّت يعني په زړه کښې د هغې پخه اِراده اوکړئ ورسره ئې په ژبه هم اولولئ چه دا ډير غوره دي (مثلاً نيّت کوم زه د څلور رکعته فرض مونځ د نن مازديګر، که د جَمعې سره وي نو داهم اووائې، په دې [حاضر] اِمام پسې) اوس د تکبيرِ تحريمه يعني د "اَللّٰهُ اَکْبَر" وئيلو سره لاسونه ښکته راوړئ او د نامه نه لاندې ئې داسې اوتړئ چه د ښي لاس تلې د ګڅ لاس د تلي [د شا] په سر [يعني د لاس د بند په خواکښ] او د مينځ درې ګوتې د ګڅ مړوند په شا او غټه او کچې ګوته د مړوند په يو اړخ او بل اړخ راتاو وي.

## اوس په دې شان ثنا اولولئ:

| |
|---|
| سُبۡحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمۡدِكَ وَ تَبَارَكَ اسۡمُكَ |
| پاک ئې ته اے اللّٰه (عَزَّوَجَلَّ) او زه ستا حمد کوم او ستا نوم بَرَکت والا دې |
| وَ تَعَالٰى جَدُّكَ وَ لَآ اِلٰهَ غَيۡرُكَ ط |
| او ستا عَظَمت اوچت دې او ستا نه سِوا بل هيڅ څوک مَعبُود نشته. |



www.dawateislami.net

## بيا تَعَوُّذ اولولئ:

| اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ |
|---|
| زه د الله تعالیٰ په پناه کښې راځم د شيطان مردود نه. |

## بيا تَسمِيَه اولولئ:

| بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
|---|
| د الله په نوم شروع کوم چه ډېر مهربان رحم کونکې[دې] |

## بيا پوره سوره فاتِحه اولولئ:

| اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱﴾ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ﴿۲﴾ مٰلِكِ يَوْمِ الدِّيْنِ ﴿۳﴾ |
|---|
| ترجمهٔ کَنزُالایمان: ټول صِفتونه د الله د پاره دي چه مالِک دې د ټول جهان والؤ، ډېر مهربان رحم کونکې دې د جزا [يعني د قِيامت] د ورځې مالِک. |
| اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ ﴿۴﴾ اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ ﴿۵﴾ |
| مونږ هُم ستا عِبادت کوو او هُم ستا نه مدد غواړو. مونږ روان کړې |



www.dawateislami.net

| |
|---|
| صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ ۙ۬ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ |
| په صحيح لار، لار د هغه [كسانو] په چا چه تا احسان كړې دې، نه د هغه [خلقو] په چا چه غضب شوې دې |
| وَلَا الضَّآلِّيْنَ ۧ |
| او نه په لار د ګمراهانو. |

سورۀ فاتِحه چه ختمه كړئ نو په رو شان اٰمين اولولئ. بيا درې آيتونه يا يو اوګد آيت چه د درې ورو آيتونو برابر وي يا كوم يو سورت مثلاً سورۀ اِخلاص اولولئ:

| |
|---|
| بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ |
| د الله په نوم شروع كوم چه ډير زيات مهربان رحم كونكې [دې] |

| |
|---|
| قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۚ﴿۱﴾ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۚ﴿۲﴾ لَمْ يَلِدْ ۙ۬ وَلَمْ يُوْلَدْ ۙ﴿۳﴾ |
| ترجمۀ كَنزُالايمان: ته اوفرمايه هغه الله دې، هغه يو دې. الله بې نيازه دې. نه د هغه ځوك اولاد شته، او نه هغه د چا نه پيدا دې، |



www.dawateislami.net

| وَلَمۡ یَکُنۡ لَّہٗ کُفُوًا اَحَدٌ ﴿۴﴾ |
| --- |
| او نه د هغه څوک برابر شته. |

اوس د "اَللّٰهُ اَکۡبَر" وئیلو سره سره رُکوع ته لاړشئ او زنګونان په داسې شان په لاسونو کښل اونیسئ چه تلي په زنګونانو وي او ګوتې په ښه شان خورې وي. چه ملا خوره وي او سر د ملا سره [په اوچت والي کښ] سم وي چه ښکته بره نه وي او نظر په قدمونو [یعني په ښپو] وي. کم نه کم درې ځله د رُکوع تسبیح سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡعَظِیۡم (یعني پاک دې زما عَظَمت والا پروردِګار) اولولئ بیا د تسمِیع (تَس. مِیع) یعني سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنۡ حَمِدَہ (یعني الله عَزَّوَجَلَّ د هغه واوریده چا چه دهغه ثنا اوکړه) وئیلو سره سره بالکل نیغ اودرېږئ، دې اودریدو ته "قومه" وائي. که چرې تاسو مُنفرِد ئې یعني یواځې مونځ کوئ نو د دې نه پس اولولئ: اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الۡحَمۡد اے الله! زمونږه مالِکه! ټول صِفَتونه هُم تا لره



www.dawateislami.net

دي. بیا د ''اَللّٰہُ اَکۡبَر'' وئیلو سره سره په داسې طریقه سجده کښې لا ړشئ چه مخکښې زنګونان په زمکه اولګوئ، بیا لاسونه، بیا د دواړو لاسونو په مینځ کښې سر په داسې طریقه کیږدئ چه مخکښې پوزه بیا تندې اولګي، او د دې خاص خیال سا تئ چه د پوزې [صرف] سر نه بلکه هډوکې اولګي او تندې په زمکه باندې جوخت اولګي، چه نظر په پوزه وي، متې د ډډو نه،خیټه د ورنونو نه، او ورنونه د پنډو نه جُدا ساتئ (که په صف کښې ئې نو متې د ډډو سره لګیدلې سا تئ) او چه د دواړو ښپو د لسو لسو واړو ګوتو رُخ په دې شان قبلې طرف ته وي چه د لسو واړو ګوتو خیټې (یعني د ګوتو لاندې طرف کوم چه په ولاړه کښې په زمکه لږي) په زمکه لګیدلې وي. [د لاسونو] تلې چه خواره وي او ګوتې مخ په قبله وي، خومتې په زمکه مه لګوئ او کم نه کم درې ځله د سجدې تسبیح یعني سُبۡحٰنَ رَبِّیَ الۡاَعۡلٰی (پاک دې



www.dawateislami.net

زما پروردِګار د ټولو نه اوچت) اولولئ. بيا سر داسې پورته کړئ چه مخکښ تندې، بيا پوزه، بيا لاس راپورته کړئ. بيا ښئ ښپه [يعني پنجه] اودروئ او د هغې ګوتې مخ په قبله کړئ او ګڅه ښپه خوره کړئ او په هغې بالکل سِيده کښينئ او د لاسونو تلې خواره کړئ او په ورنونو ئې د زنګونانو سره کيږدئ داسې چه د دواړو لاسونو ګوتې قبلې طرف ته او د ګوتو سرونه د زنګونانو خواسره وي. د دواړو سجدو په مينځ کښ ناستې ته جلسه وائي، بيا کم نه کم د يو سُبۡحٰنَ اللّٰهِ همره وخت تير کړئ (په دې وقفه کښ اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡلِیۡ يعني اے الله زما بخښنه اوکړې،، لوستل مُستحب دي) بيا اَللّٰهُ اَکۡبَر وئېلو سره د ړومبۍ سجدې په شان دويمه سجده اوکړئ، اوس هم هغه شان مخکښ سر راپورته کړئ بيا لاسونه په ورنونو کيږدئ او د پنجو په زور اودريږئ. د پاڅيدو په وخت کښ بغير د مجبورئ نه په زمکه لاس مه ږدئ.



www.dawateislami.net

د ۱ ستاسو یو رکعت پوره شو. اوس په دویم رکعت کښې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ اولولئ او بیا اَلۡحَمۡدُ او سورت اولولئ او د مخکښې په شان رُکوع او سجدې اوکړئ، د دویمې سجدې نه د سر پورته کولو نه پس ښئ ښپه اودروئ او ګڼه ښپه خوره کړئ او په دې کښینئ، د دویم رکعت د دویمې سجدې نه پس ناستې ته قعده وائي اوس په قعده کښې تشهُّد (تَ.شَه.هُد) اولولئ:

| |
|---|
| اَلتَّحِیَّاتُ لِلّٰہِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّیِّبٰتُ ؕ اَلسَّلَامُ عَلَیۡكَ |
| تمام قولي، فِعلي او مالي عِبادتونه هُم د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ د پاره دي. سلام دِ وي په تاسو |
| اَیُّهَا النَّبِیُّ وَرَحۡمَةُ اللّٰہِ وَبَرَکَاتُهٗ ؕ اَلسَّلَامُ عَلَیۡنَا |
| اے نبي او د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ رحمتونه او برکتونه، سلام دِ وي په مونږ |
| وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰہِ الصّٰلِحِیۡنَ ؕ اَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ |
| او د اللّٰه په نیک بندګانو باندې، زه ګواهي ورکوم چه د اللّٰه عَزَّوَجَلَّ نه سِوا هیڅ څوک هم د عِبادت لائِق نشته |



www.dawateislami.net

| |
|---|
| وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط |
| او زه ګواهي ورکوم چه محمّد (صَلَّی اللہُ تَعَالٰی عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم) د هغه بنده او رسول دي. |

کله چه په تَشهُّد کښې لفظِ ''لا'' لوستلو ته نِزدې شئ نو د ښي لاس د مينځنۍ ګوتې او د غټې ګوتې حلقه [يعني کړۍ] جوړه کړئ [يعني د دواړو سرونه د يو بل سره اولګوئ] اوکچۍ ګوته او د هغې خوا سره ګوته د تلي سره اولګوئ او د (اَشْهَدُ اَنْ نه فوراً بعد) د لفظِ ''لا'' د وئيلو سره د شهادت ګوته اوچته کړئ خو هغه اخوا ديخوا مه خوزوئ او په لفظِ ''اِلَّا'' باندې ئې ښکته کړئ او فوراً ټولې ګوتې سِيده خورې کړئ. اوس که د دوه رکعتو نه زيات رکعتونه کوئ نو د ''اَللّٰهُ اَکْبَر'' وئيلو سره ولاړ شئ، که فرض مونځ کوئ نو د دويم او دريم رکعت په قِيام کښې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ او اَلْحَمْدُ شريف اولولئ! د سورت وئيلو ضرورت نشته، باقي افعال [يعني کارونه] هم په هغه طريقه پوره کړئ. او که سنّت او نفل وي نو د سورهٔ فاتِحه نه وروستو سورت هم اولولئ (خو که په اِمام پسې مونځ کوئ نو د يو رکعت په قِيام کښې هم قِراءت مه کوئ، خاموشه ولاړ اوسئ) بيا څلور



www.dawateislami.net

رکعته چه پوره کړئ نو په قعدهٔ اخيره کښې د **تَشَهُّد** نه پس درودِ اِبراهيم عَلٰی نَبِیِّنَا وَعَلَیْہِ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام اولولئ:

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ |
| اے اللّٰه! درود اوليږې (زمونږ په سردار) محمّد باندې او د هغوئ په آل باندې څنګه چه تا درود ليګلي دي |
| عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰٓى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ط |
| په (سيِّدُنا) اِبراهِيم او د هغوئ په آل باندې، بيشکه ته صِفت کړې شوې بُزُرګ ئې. |
| اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰٓى اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ |
| اے اللّٰه عَزَّوَجَلَّ بَرَکت نازِل کړې (زمونږ په سردار) مُحَمَّد باندې او د هغوئ په آل باندې څنګه چه تا بَرَکت نازِل کړې دې |
| عَلٰٓى اِبْرٰهِيْمَ وَعَلٰٓى اٰلِ اِبْرٰهِيْمَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ط |
| په (سيِّدُنا) اِبراهيم او د هغوئ په آل باندې، بيشکه ته صِفَت کړې شوې بُزُرګ ئې. |



www.dawateislami.net

## يا يوه دعائے ماثُوره اولولئ، مثلاً دا دعا اولولئ:

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً |
| اے الله! اے زمونږه ربه! مونږ ته راكړې په دُ نيا كښې نيكئ |
| وَّفِی الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ |
| او په آخِرت كښې نيكئ ، او مونږه د اور د عذاب نه اوساتې. |

بيا د مونځ ختمولو د پاره مخكښې د ښئ اوګي طرف ته مخ اوګرزوئ او اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ اولولئ او هم دغسې ګڅ طرف ته هم اوكړئ. اوس مونځ ختم شو. (مراقي الفلاح معه حاشِية الطحطاوي، ص 278، غنية المتملي ص 298)

## د "يا الله" د شپږو حرفونو په نِسبت سره د مونځ شپږ شرطونه

(1) طَهارت (2) سَترِ عورت (3) اِستِقبالِ قِبله (4) وخت (5) نيّت (6) تكبيرِ تحريمه



www.dawateislami.net

## د ”بِسۡمِ اللّٰہِ“ د 7 حروف په نِسبت د مونځ 7 فرائِض

(1) تکبیرِ تَحرِیمه (2) قِیام (3) قِراءَت (4) رُکوع (5) سُجود (6) قَعدۀ اخِیره (7) خُروجِ بِصُنعِه. (غنية المتملي ص 256)

## په قیامت کښې به د ټولو نه اول دمونځ تپوس کیږي په نسبت د مونځ تقریباً 30 واجِبات

(1) په تکبیرِ تَحرِیمه کښې لفظ ”اَللّٰہُ اَکۡبَرُ“ لوستل (2) د فرضو د دریم او څلورم رکعت (رَکۡ.عَتۡ) نه علاوه باقي د ټولو مونځونو په هر رکعت کښې اَلۡحَمۡدُ شریف لوستل، سورت ملګرې کول یا د قرآنِ پاک یو غټ آیت کوم چه د درې وړو آیتونو برابر وي یا درې مُختصرآیتونه لوستل (3) اَلۡحَمۡدُ شریف د سورت نه مخکښې لوستل (4) د اَلۡحَمۡدُ شریف او د سورت په مینځ کښې د اٰمین ”او د بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ“ نه علاوه نور څه نه لوستل. (5) د قِراءت



www.dawateislami.net

نه فوراً بعد رُکوع کول (6) د يوې سجدې نه پس بالتّرتيب
دويمه سجده کول (7) په تعديلِ ارکا ن يعنې په رکوع، سُجود،
قومه او جلسه کښې کم نه کم د يو ځل "سُبْحٰنَ الله" وئيلو
په مقدار دمه کول (8) د قومه يعنې د رُکوع نه نيغ اودريدل
(ځيني خلق ملا نه نيغوي داسې د دوئ واجِب پاتې شي) (9) په
جلسه يعني د دوو سجدو په مينځ کښې نيغ کيناستل (ځيني خلق
د تادئ په وجه د سِيده کښيناستو نه مخکښې زر دويمې سجدې
ته لاړشي داسې د دوئ واجِب پاتې شي،که هر څومره تادي
هم وي په نيغه ملا ناسته لازمه ده ګني مونځ به مکروهِ تحريمي
واجِبُ الاِعاده [يعني دوباره کول واجِب] وي (10) قَعدهٔ اُولٰي
واجِب ده اګر که نفل مونځ وي...... (په اصل کښې د نفلو هره
قعده "قعدهٔ اخيره" او فرض ده،که قعده ئې او نه کړه او په هيره
کښې پاڅيدو نو چه د څو پورې ئې د دغه رکعت سجده نه وي
کړي [او ور ياد شي] نو واپس دې کښيني او سجدهٔ سَهو دې



www.dawateislami.net

اوکړي) (بهارِ شريعت ج 1، حصه4، ص 712) خو که د نفلو د دريم رکعت سجده ئې اوکړه نو څلور دې پوره کړي او سجدهٔ سهو دې اوکړي، سجده سهو ځکه واجِب شوه چه اګر چه د نفلو په هر دويم رکعت قعده فرض ده خو د دريم يا پينځم (علٰی هٰذَالقياس) رکعت سجد ه کولو نه پس قعدهٔ اولٰی د فرض په ځائ واجِب شوه. (طحطاوي ص 466 مُلخّصًا) (11) د فرض، وِتر او سنّتِ مؤکّده [په اوله قعده] کښې د تشهُّد [يعني عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ] نه وروستو نور څه نه لوستل. (12) په دواړو قعدو کښې تشهُّد [يعني عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ پوري] مُکمّل لوستل،که يو لفظ هم پاتې شو نو واجِب ترک شو او سجده سَهو به واجِب شي (13) د فرض، وِتر او سُنّتِ مؤکّده په قعدهٔ اُولٰی کښې که په بې خيالئ کښې اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ يا اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا اووائي نو سجده سَهو واجِب شوه او که قصداً ئې اووئيل نو مونځ بياکول واجِب دي- (الدُّرّالمُختار و ردُّ المُحتار ج 2، ص 269) (14) دواړو طرف ته د سلام ګرزولو په



www.dawateislami.net

وخت لفظ السَّلام لوستل دواړه ځله واجِب دي. لفظ عَلَیْکُم لوستل واجِب نه دي بلکه سنّت دي. (15) په وِتر کښې تکبيرِ قُنوت لوستل (16) په وتر کښې دعائے قُنوت لوستل (17) د اخترو [په مونځونو کښې] شپږ تکبيرونه (18) په اخترو کښې د دويم رکعت تکبيرِ رُکوع او د دې تکبير د پاره لفظ "اَللهُ اَکْبَر" لوستل (19) په جهري مونځونو مثلاً د ماښام او ماسخُتن په اولني او دويم رکعت کښې او د سحر، جمعه، اختر، تراويح او د رمضان شريف د وِتر په هر رکعت کښې اِمام لره په جهر (يعني په دومره اوچت آواز کښې چه کم نه کم درې کسان ئې اوريدې شي) قِراءت کول (20) په غيرِ جهري مونځونو (مثلاً په ماسپښين او مازديګر) کښې په قلاره [يعني پټ] قِراءت کول (21) هر فرض او واجِب په خپل ځائ ادا کول (22) رُکوع په هر رکعت کښې صرف يو ځل کول (23) سجده په هر رکعت کښې هُم دوه ځله کول (24) د دويم



www.dawateislami.net

رکعت نه مخکښې قعده نه کول (25) د څلورو رکعتو په مونځ کښې په دریم رکعت قعده نه کول (26) که آیتِ سجده ئې لوستلې وي نو سجدهٔ تِلاوت کول (27) که سجدهٔ سَهْووَاجِب شوې وي نو سجده سَهو کول (28) د دوو فرضو یا دوو واجبو یا د یو فرض بل واجِب [ارکان] په مینځ کښې د دریو تسبیح (یعني د درې ځله "سُبۡحٰنَ اللّٰه" وئیلو) په مقدار وقفه نه کول (29) اِمام چه کله قِراءت کوي که په اوچت آواز کښې وي او که په قلاره وي، د مُقتدي چپ اوسیدل (30) د قِراءت نه علاوه په ټولو واجِباتو کښې د اِمام پیروي کول. (الدُّرّالمُختار و ردُّ المُحتار ج 2، ص 181، الفَتاوی الهِندِیة ج 1، ص 71)

## دُعائے قُنوت

اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسۡتَعِیۡنُكَ وَنَسۡتَغۡفِرُكَ وَنُؤۡمِنُ بِكَ وَنَتَوَكَّلُ

اے اللّٰه! مونږ ستا نه مدد غواړو او ستا نه بخښنه غواړو او په تا ایمان راوړو او په تا یقین ساتو



www.dawateislami.net

| |
|---|
| عَلَيْكَ وَنُثْنِيْ عَلَيْكَ الْخَيْرَ وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ |
| او ستا ډېر ښه صِفَت كوو او ستا شُكرادا كوو او ستا نا شُكري نه كوو، |
| وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَّفْجُرُكَ ط اَللّٰهُمَّ اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ |
| اوجُدا كوو او پرېږدو هغه كس چه څوک ستا نافرماني كوي اے اللّٰه! مونږ ستا عِبادت كوو او هُم ستا د پاره |
| نُصَلِّيْ وَنَسْجُدُ وَاِلَيْكَ نَسْعٰى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُوْا رَحْمَتَكَ |
| مونځ كوو او سجده كوو او هُم ستا طرف ته درُومو [يعنې په منډه درځو] او د خِدمت د پاره حاضرېږو، او ستا د رحمت اُميد لرو، |
| وَنَخْشٰى عَذَابَكَ اِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ ط |
| او ستا د عذاب نه يرېږو، بيشكه ستا عذاب كافِرانو ته مِلاويدونكې دې. د دُعائے قُنوت نه پس د رود شريف لوستل بهتر دي- |

(غنيةُ المتملي، ص 417)



www.dawateislami.net

## چا ته چه دُعائے قُنوت یاده نه وي هغه دِ دا اولولي:

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً |
| اے الله! اے زمونږه ربه! مونږ ته راکړِ په دُنیا کښ نیکئ |
| وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ |
| او په آخِرت کښ نیکئ، او مونږه د اور د عذاب نه اوساتې. |

یا دې دا اولولي:

**اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي** (اے الله! ما اوبخښې)

(مراقي الفلاح معه حاشية الطحطاوي ص 385)

## دُعائے تراویح

| |
|---|
| سُبْحٰنَ ذِي الْمُلْكِ وَالْمَلَكُوْتِ ۞ سُبْحٰنَ ذِي الْعِزَّةِ |
| پاک دې مُلک او ملکوت والا، پاک دې عزّت |



www.dawateislami.net

وَالْعَظَمَةِ وَالْهَيْبَةِ وَالْقُدْرَةِ وَالْكِبْرِيَآءِ وَالْجَبَرُوْتِ ۝

او بُزُرګۍ او جلال او قُدرت او لوئي او جَبَروت والا،

سُبْحٰنَ الْمَلِكِ الْحَيِّ الَّذِىْ لَا يَنَامُ وَلَا يَمُوْتُ ۝ سُبُّوْحٌ

پاک دې باد شاه کوم چه ژوندې دې، کوم چه نه اُوده کیږي او نه مري. پاک

قُدُّوْسٌ رَّبُّنَا وَرَبُّ الْمَلٰٓئِكَةِ وَالرُّوْحِ ۝ اَللّٰهُمَّ اَجِرْنِىْ

مُقدّس دې زمونږه ربّ او ربّ د فرِښتو او د رُوح، اے اللّٰه! ماته خلاصي راکړې

مِنَ النَّارِ ۝ يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ يَا مُجِيْرُ ۝

د (دوزخ) د اور نه، اے خلاصي ورکونکيه! اے خلاصي ورکونکيه! اے خلاصي ورکونکيه!

بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ ۝

د خپل رحمت په سبب په مونږ باندې رحم اوفرمائ اے د ټولو نه زيات رحم کونکيه.



www.dawateislami.net

## د جنازې د مونځ طريقه

مُقتدي دې داسې نيّت اوکړي. "زه نيّت کووم د دې جنازې د مونځ، خاص د الله عَزَّوَجَلَّ د پاره، دعا د دې مړي د پاره ، په دې [حاضِر] اِمام پسې." (فَتاويٰ تاتارخا نيه ج 2، ص 153) اوس دې اِمام او مُقتدي اول د غوږونو پورې لاسونه پورته کړي او د "اَللّٰهُ اَكْبَر" د لوستلو سره سره دِ ئې فوراً حسبِ معمول د نامه نه لاندې اوتړي او ثنا دِ اولولي، په دې کښې دِ د "وَتَعَالٰى جَدُّكَ" نه پس "وَجَلَّ ثَنَاءُكَ وَلَآ اِلٰهَ غَيْرُكَ" اولولي، بيا دِ د لاسونو پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَكْبَر" اولولي، بيا دِ درودِ اِبراهيم اولولي، بيا دِ د لاس پورته کولو نه بغير "اَللّٰهُ اَكْبَر" اولولي او [د جنازې] دُعا دِ اولولي (اِمام دِ تکبيرونه په اوچت آواز لولي او مُقتدي په قلاره. باقي ټول اذکار دِ اِمام او مُقتديان پټ لولي) د دُعا نه پس دِ بيا "اَللّٰهُ اَكْبَر" اولولي او لاسونه دِ زوړند کړي بيا دِ دواړه طرف ته سلام اوګرځوي. (حاشيةُ الطحطاوي ص 584)

## د جنازې د مونځ ارکان

د جنازې د مونځ دوه رُکن دي (1) څلور ځله اللّٰهُ اکبر لوستل (2) قِيام



www.dawateislami.net

# د بالِغ نارينه او زنانه د جنازې دُعا

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اغۡفِرۡ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَآئِبِنَا |
| اِلٰهي! بخښنه اوکړې زمونږه د هر ژوندي او زمونږه د هر مړي او زمونږه د هر حاضر او زمونږه د هر غائِب |
| وَصَغِيۡرِنَا وَكَبِيۡرِنَا وَذَكَرِنَا وَاُنۡثٰنَا ط |
| او زمونږه د هر وړوکي او زمونږه د هرلوئ او زمونږه د هر نارينه او زمونږه د هرې زنانه. |
| اَللّٰهُمَّ مَنۡ اَحۡيَيۡتَهٗ مِنَّا فَاَحۡيِهٖ عَلَى الۡاِسۡلَامِ |
| اِلٰهي ته په مونږ کښې چه څوک ژوندي لرې نو هغه په اسلام ژوندي لرې |
| وَمَنۡ تَوَفَّيۡتَهٗ مِنَّا فَتَوَفَّهٗ عَلَى الۡاِيۡمَانِ ط |
| او په مونږ کښې چه چا له مرګ ورکوې نو په ايمان مرګ ورکړې. |



www.dawateislami.net

## د نابالِغ هلک [د جنازې] دُعا

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَا فَرَطًا |
| اِلٰهي دا (هلک) چه مخکښ اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د ګټې] سامان کونکې جوړ کړې |
| وَّاجْعَلْهُ لَنَآ اَجْرًا وَّذُخْرًا |
| او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت باندې د کار راتلونکې جوړ کړې |
| وَّاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا وَّمُشَفَّعًا ط |
| او دا زمونږ د پاره شفاعت کونکې جوړ کړې او هغه چه د چا سِفارش منظور شي. |

## د نابالِغه جينۍ [د جنازې] دُعا

| |
|---|
| اَللّٰهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا |
| اِلٰهي دا (جينۍ) چه مخکښ اورسي نو زمونږ د پاره ئې [د آخرت د ګټې] سامان کونکې جوړه کړې |



www.dawateislami.net

| |
|---|
| وَّ اجۡعَلۡهَا لَنَاۤ اَجۡرًا وَّ ذُخۡرًا |
| او دا زمونږ د پاره د اجر (موجِب) او په وخت باندې د کار راتلونکي جوړه کړې |
| وَّ اجۡعَلۡهَا لَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً ط |
| او دا زمونږ د پاره شفاعت کونکي جوړه کړې او هغه چه د چا سِفارش منظور شي. |

(مِشکوٰۃُ المصابِیح ج 1، ص 319، حدیث 1675، الفَتاوٰی الهِندیه ج1، ص164)

## د شِکوه تعریف

د مصیبت په وخت کښې کِیلې قِصې اوېې صبري کولو ته شِکوه وائي.

(حدِیقه ندِیه شرح طریقهٔ محمّدیه ج2، ص98)



www.dawateislami.net

# فهرست


| | | | |
|---|---|---|---|
| د مونځ فيضان | 1 | د اذان دُعـا | 21 |
| د دُرود شريف فضيلت | 1 | د مونځ طريقه | 22 |
| ايمانِ مُفصَّل | 1 | د مونځ شپږ شرطونه | 32 |
| ايمانِ مُجمَل | 2 | د مونځ 7 فرائِض | 33 |
| شش[شپږ] کَلِمې | 3 | د مونځ تقريباً 30 واجِبات | 33 |
| د اودس طريقه | 8 | دُعائے قُنوت | 37 |
| د غُسل طريقه | 13 | دُعائے تراويح | 39 |
| د غُسل فرائِض | 15 | د جنازې د مونځ طريقه | 41 |
| د تَيَمُّم طريقه | 15 | د جنازې د مونځ ارکان | 41 |
| د تَيَمُّم فرائِض | 17 | د بالِغ نارينه او زنانه د جنازې دُعا | 42 |
| اذان | 17 | د نابالِغ هلك د جنازې دُعا | 43 |
| د اذان د جواب ورکولو طريقه | 19 | د نابالِغه جينۍ د جنازې دُعا | 43 |




www.dawateislami.net

ٱلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

## نیک او مونځ ګزاره جوړیدو دَ پاره

هر زیارت د ماښام د مانځه نه پس ستاسو په ځائ کښ کیدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتو نه ډکه هفته واره اجتماع کښ د رِضائے اِلٰهي د پاره د ښو ښو نِيَّتونو سره ټوله شپه تیروئ ❀ د سُنَّتو د تربيَّت د پاره په **مَدَني قافِلو** کښ د عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د دري ورځو سفر او ❀ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رِساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په وړومبي تاریخ ئې د خپل ځائ [د دعوتِ اسلامي] ذِمَّه دار ته د جَمع کولو معمول جوړ کړئ.

**زما مَدَني مقصد:** "ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح کوشش کول دي." اِنْ شَآءَاللّٰهعَزَّوَجَلَّ دَ خپل ځان دَ اِصلاح دَ پاره په "**مَدَني اِنعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا دَ خلقو دَ اِصلاح دَ کوشش کولو دَ پاره په "**مَدَني قافِلو**" کښ سَفَر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰهعَزَّوَجَلَّ


ISBN 978-969-631-253-6

0109434

www.dawateislami.net

MAKTABA TUL MADINAH

MC 1286



فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچئ)

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 1262

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net